## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# د والدینو او ماشوم تعامل   د نویو تجربو او کلیماتو اضافه کول

| غوره ستراتیژۍ | دا ځنګه مرسته کوي |
|---|---|
| **د ماشوم غږونه او کلیمات کاپي کړئ.** | ستاسو د ماشوم په څیر غږونو او کلیماتو کارول ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي تر څو هغوی تشویق شي چې هڅه وکړي.<br><br>د ژویو او موټرونو د غږونو اپستل تمرین کړئ تر څو وګورئ چې هغوی ستاسو پېښي کوي که نه! |
| **د خپل ماشوم په ژبه ډېرې خبرې وکړئ   ډېر کلیمات وکاروئ** | ستاسو د ماشوم په کلیماتو کې یوه اندازه کلیمې ور اضافه کول له هغه سره مرسته کوي تر څو هغه نوي کلیمات زده کړي چې وروسته یې بیا کاپي کړي.<br><br>د خپل ماشوم ژبې ته نور کلیمات اضافه کړئ.<br><br>دا له هغوی سره مرسته کوي تر څو پوه شي او هغوی هڅوي تر څو له ډېر کلیمات وکاروي. د بېلګې په توګه، که چېرته ستاسو ماشوم وایي، "موټر" تاسو ولای شئ ووایئ، "هو یو **لوی** موټر." |
| **پر دې پوه شئ چې ستاسو ماشوم هڅه کوي څه ووایي.** | خپل ماشوم ته اجازه ورکول تر څو د کلیماتو د ویلو لپاره هغه په سمه توګه واوري کوم چې هغوی یې مثبته هڅه کوي، هغوی به تشویق کړي تر څو د کلیماتو ویل تمرین کړي.<br><br>ټولو هغو لارو ته کتنه وکړئ په کومو چې ستاسو ماشوم له خپل بدن سره اړیکه ساتي   د هغوی غږ، د هغوی ظاهري څېره، د هغوی حرکات.<br><br>هغوی د څه شي د ویلو هڅه کوي؟<br><br>هغه کلیمې ووایاست چې ماشوم هڅه کوي و یې وایي   دا د ژبې یو موډل چمتوکوي.<br><br>د بېلګې په توګه، که چېرته ستاسو ماشوم د خپلې پیالې پر لور لاس غځوي او یو غږ باسي، تاسو کولای شئ دا کلیمه ووایئ: "جوس غواړې؟ سمه ده." بیا خپل ماشوم ته پیاله ورکړئ.<br><br>خپل ماشوم مه اړ باسئ چې ستاسو خبرې کاپي کړي. |